# ځوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "ځوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې: ځوک چې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه د شپې پر مهال ولولي نو الله تعالى د هغه لپاره بسنه کوي چې له هرې بد او مصيبت څخه يې وساتي. او داسې هم ويل شوي چې (معنا يې دا ده چې) دا آيتونه ورته د شپې له تهجدو څخه بسنه کوي، او ويل شوي چې له نورو ټولو اذکارو څخه ورته بسنه کوي، او ويل شوي چې دا تر ټولو کم هغه څه دي چې بايد د شپې په تهجدو کې ولوستل شي او داسې نورې ويناوې هم شوي دي، او کېدای شي ټول هغه څه چې پدې اړه وويل شول سم وي ځکه چې دا الفاظ ورته شاملېږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6274

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee